# د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

د پريکړې شميره: ۲۷- ۱۳۸۹

موضوع:
- ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته د را رسیدلو مکتوبونو د متن او محتوا په باره کي بحث.
- د ولسي جرګي ټاکنو ته د (۶) تنو کاندیدانو د کاندیداتورۍ له حق څخه محروموول؛ د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د پریکړې پر بنسټ.
- د کاندیدانو د اړیکو شمیرې وړاندې کول یانه وړاندې کول ټولیزو رسنیو ته د هغوی د غوښتني په صورت کي؛
- رسنیو او مطالبه کوونکو رسنیو ته د باورلیک صدرو.

مرجع: د ټاکنو د خپلواک کميسيون د دارالانشاء رياست

وخت، نيټه او د ملاقات ځای: د ۱۳۸۹ کال د زمري د مياشتي (۱۰) نيټه چي د ۲۰۱۰ ميلادي کال د اګوست د مياشتي (لومړۍ) نيټي سره سمون لري، د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر.

حاضرغړي: ښاغلی فضل احمد معنوي ، ښاغلی ستر جنرال محمد ايوب اصيل ، آغلي مومنه ياري ، آغلي مستوره ستانيکزی، ، ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني، ښاغلی قاضي سليمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسيني پشه ئي .

د افغانستان د اسلامي جمهوريت اساسي قانون د (۱۵۶) مادې د حکم پر بنسټ.
د ټاکنو خپلواک کميسيون په اجندا کې د شاملو موضوعاتو په اړه داسي پريکړې وکړې:

1. د دې لپاره چي د ګيزاب ولسوالي د دايکنډي ولايت په اداري تشکيلاتو کې شامليږي به دې توګه ټاکنيز مسائل يي هم په دې ولايت پورې اړونديږي.
2. په غير قانوني وسلوالو ډلو کې د کانديدانو غړيتوب يا مشرۍ د څيړلو کميسيون د کار د پای په اړه دې د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون ته مکتوب واستول شي.
3. د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون پريکړه دولسي جرګي ټاکنو ته د (۶) تنو کانديدانو ( ښاغليو او آغليو: کريمه کوهستاني، ضامن پويا، پروين سادات، فوزيه يونسي کاکړ او محمد هاشم ګراني) د کانديداتورۍ له حق څخه محروموول تائيد او تصديق دی.
4. ټوليزو رسنيو ته دکانديدانو د ټيلفون د شميرې ورکول، د رسنيو د غوښتني په صورت کې کوم حقوقي خنډ نشته، کميسيون کولای شي چي د يوې رسنۍ د غوښتني په صورت کې دهغې په واک کې ورکړې.
5. د وړاندې شويو اسنادو په پام کې نيولوسره د يادشويو وروستيو بنسټونو لپاره باورليک صادريږي:

- د بحران نړیواله ډله؛
- د افغانستان ملي متحد ګوند؛
- د سمنګانو فرهنګي زده کړې د تفاهم او همبستګۍ شورا؛
- د ملي مشارکت حزب؛
- د افغانستان د ملي پيوند ګوند؛
- اخبار او راډيو ازادۍ غږ؛
- د رابعه بلخي راډيو؛
- راډيو رستم FM؛
- د نشنل ورځپاڼه؛
- د سيمای غوريان ټلويزيوني شبکه او .NHK TV؛